DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۷۲۸

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ل

لسم کال - دویمه دوره، ۷۲۸ مه ګڼه، پر له پسې ۱۷۹۵ ګڼه، د ۱۳۸۸ ل ـ د کب ۲۲ مه - د شنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د ربیع الاول ۲۶ مه د ۲۰۱۰ د مارچ ۱۳ مه

PROPERTY OF ACKU

په خوست کې د یوه دیني دارالعلوم ودانۍ پرانستل شوه

د خوست ولایت ځایي چارواکي وایي، د دې ودانیو پر جوړولو نوي میلیونه افغانۍ لګول شوي، چې په خوست کې د مېشتې پي ار ټي له خوا ورکړل شوې دي. اوسمهال په دې دارالعلوم کې دوه سوه طالبان پر زده کړو بوخت دي.

په همدې مهال د خوست د پوهنې ریس عزیزاحمد هاشمي وویل، د دې ودانیو چارې پنځلس میاشتې وړاندې پیل شوې وې. دغه دارالعلوم چې په نژدې پنځه جریبه ځمکه جوړشوی د لیلیې او تدریسي لپاره دوې **۳مخ**

حامد کرزی رییس جمهورافغانستان:

اجازه نمی‌دهیم تا از افغانستان بر ضد سایر کشورها استفاده گردد

حامد کرزی رییس جمهور دولت اسلامی افغانستان در سفراخیرش به پاکستان گفته است که دولتش اجازه نمی دهد افغانستان محلی برای جنگ میان هند و پاکستان و همچنین ایران و امریکا باشد.

آقای کرزی در نشست مشترک خبری با یوسف رضا گیلانی، نخست وزیر پاکستان گفت: "ما نمی خواهیم افغانستان محلی برای جنگ میان ایران و امریکا یا میان هند و پاکستان باشد."

رییس جمهور افغانستان در پاسخ به پرسشی در باره نگرانی پاکستان از حضور هند در افغانستان گفت: "می خواهم اطمینان دهم که افغانستان نه تنها به هند بلکه به هیچ کشور دیگری هم اجازه نمی دهد تا از قلمروش برضد سایر کشورها استفاده کند."

بر اساس اعلامیهٔ که ازدفتر **ص۳**

په ځانمرګو بریدونو کې شاوخوا ۱۴۰ تنه مړه او ژوبل شول

د پاکستان د پنجاب د مرکز لاهور په ځانمرګو بریدونو کې، چې د دغه هېواد امنیتي ځواکونه یې په نښه کړي وو، لږترلږه ځلوېښت تنه وژل شوي او ترسلو زیات نور ژوبل شوي دي.

دا برید له دې سره سره شوی، چې د پاکستان حکومت وایي طالبان یې خپلي او اوس دا ډله ډېره کمزورې شوې ده.

د لاهور د پولیسو مشر طارق سلیم ډوګر وویلي: پرون دوو ځانمرګو د دې ښار په پوځي سیمه کې په دوو پر له پسې بریدونو کې ۳۹ تنه ووژل او ترسلو زیات یې ټپیان کړل.

لاهور د پاکستان کولتوري مرکز بلل کېږي او د پاکستان لپاره د لاهور بریدونه د پېښتونخوا د **۳مخ**

در حشرعمومی دیروز هشت هزار نهال غرس گردید

هزاران تن از شهریان کابل صبح روز جمعه در حشر عمومی که به ابتکار شاروالی کابل و شماری از موسسات کمک رسانی به راه افتاده بود، شرکت کردند.

در این حشر عمومی بر علاوهٔ پاک کاری سرک های شهر کابل برای یک عده از مسوولان نواحی و باشنده گان کابل، نهال های زینتی و مثمر نیز توزیع شد تا در مناطق مربوطه غرس کنند. **ص۳**

د کارموندنې اعلان

DW

د آلمان ږغ راډیو لیکوالو ته اړتیا لري



د آلمان ږغ راډیو د خپلو راډیویي ډرامو د خپرونې د یوې نوې لړۍ لپاره مجربو او استعداد لرونکو ښځینه او نارینه لیکوالو ته اړتیا لري.

په تولیزه توګه دغه دوه سوه راډیویي ډرامې، چې سل یې په پښتو او سل یې په دري کې په پام کې نیول سوي د «واره او زده کړه» تر نامه لاندې د پروژې په چوکاټ کې په افغانستان او آلمان کې تولیدیږي.

د ډرامو موضوعګاني باید د افغانستان د وګړو د ژوند بیلابیلې برخې انځور کړي. البته دا موضوعګاني د آلمان ږغ راډیو له خوا ټاکل کیږي. هره ډرامه لس لړۍ لري او باید ۱۵۰۰ کلیمې وي. د راډیویي ډرامو پر جزییاتو باندې او دا چې څه ډول څرنګوالي باید ولري، د آلمان ږغ راډیو په هغو معلوماتي سیمینارونو کې وربانديخبري کیږي، چې د انتخاب سوو لیکوالو لپاره دایریږي. په دغو سیمینارونو کې ګډون حتمي او د دغې پروژې یوه برخه ده.

هره لیکواله او یا هر لیکوال د یوې راډیویي ډرامې لپاره لس لړۍ لیکي. هره اونۍ باید یوه لړۍ په بشپړه توګه ولیکله سي او د E-Mail له لارې اړوند مسوول کتونکي یا مصحح ته واستول سي. کتونکي یا مصحح په هغې کې اړین بدلونونه راوړي اود اړتیا په وخت کې لیکواله او یا لیکوال په خپلې لیکل سوي ډرامې کې ژر تر ژره دغه بدلونونه په پام کې نیسي او په خپل لیکل سوي متن کې بدلون راوړي.

د روان میلادي کال د مې په میاشت کې په کابل کې له څو ورځو ښوونیز سیمینار څخه وروسته لیکوالان د خپل کار د پیل لپاره چمتو کیږي او عملا د ۲۰۱۰ میلادي کال د جولای په لومړۍ نېټه په خپل کار پیل کوي. د هرې ډرامې ټولې لس لړۍ باید د ۲۰۱۰ کال د اګست د میاشتې تر نیمایي پورې بشپړې او کتونکو ته وړاندې سي. د کار د بشپړولو لپاره ټاکلې موده په هیڅ ډول سره د اوږدیدو نه ده. که چیرې تر ټاکلې مودې کار بشپړ نه سي، د ترون خلاف عمل ګڼل کیږي.

لیکواله او لیکوال باید څه ډول مسلکي پسمنظر ولري:

۱. د راډیویي تمثیلي کیسو په برخه کې ډیره ښه تجربه درلودل یا د دیالوګ په شکل د لنډو هیجاني کیسو په لیکولو کې تجربه.

۲. د دیالوګ په توګه په ولوله خو «طبیعي» توګه د په زړه پورو او علمي مسایلو د لیکلو توانمندي درلودل.

۳. د تمثیلي او بیا په خاصه توګه د لړۍ لرونکو کیسو په لیکلو کې داسې توانمندي او استعداد درلودل، چې ټولې لس لړۍ یوه د بلې په تعقیب خپله ولوله او هیجان له لاسه ور نه کړي.

۴. په یوې ټاکل سوي موضوع کې په ځانګړې توګه د څېړنې لپاره توانمندي درلودل او حقیقي، رښتیني معلومات په ساده او د پوهیدو وړ ژبې سره بیانول.

۵. د داسې لیکلو توانمندي درلودل، چې په ساده، روانه، د پوهیدو وړ او په زړه پوري ژبه وي او د راډیو اوریدونکي په ځانګړې توګه ځوان نسل پرې پوه شي او خوند ترې واخلي.

۶. په خپل ټاکلي وخت کې د لیکل سوي متن د سپارلو لپاره دستپلین درلودل او د دې لپاره چمتوالي ښودل، چې د کتونکي او مصحح له غوښتنې سره سم پرته له ځنډ څخه په لیکل سوي متن کې بدلون راوستل سي.

د آلمان ږغ راډیو څه آسانتیاوې تاسي ته برابروي:

۱. په یوه په زړه پوري او نوښت لرونکې پروژه کې د خپلې پوهې او زده کړې د لا پراختیا په موخه د برخې اخیستو لپاره امکانات برابرول.

۲. په دغه پروژه کې د آلمان ږغ راډیو له غوښتنو سره سم په ټاکلي موده کې د سپارل سوو کارونو د بشپړېدو څخه وروسته د --,۲۲۰۰ (دوه زره دوه سوه) ایرو حق الزحمې ورکول.

۳. د کتونکو او د پروژې د مسوولینو له خوا د کار له پیل تر پاې پوري ملتیا.

۴. تر یوې ټاکلي اندازې پوري د مخابراتي لګښتونو په غاړه اخیستل. د هغو لګښتونو په غاړه اخیستل، چې د لیکوالانو او د کتونکو او د پروژې د مسوولینو تر منځ د تماسونو په نتیجه کې رامنځ ته کیږي.

۵. تر یوې ټاکلې اندازې د څېړنې د موادو لګښت په غاړه اخیستل. د بیلګې په توګه: لیکواله یا لیکوال مجبوره کیږي، چې په یوه ټاکلې موضوع کې د خپلې څېړنې لپاره یو کتاب راونیسي. د دغه کتاب یا داسې نورو موادو لګښت تر یوې ټاکلې اندازې د آلمان ږغ راډیو یې په غاړه اخلي.

۶. په کابل کې د دغې پروژې لپاره د زده کړو د یو څو ورځنۍ سیمینار دایرول. د سیمینار د هغو برخوالو د خوراک او هوټل د مصارفو په غاړه اخیستل، چې له کابل څخه بهر راځي.

د مهربانۍ له مخه خپل غوښتلیکونه د لیکنو یوه یا دوې نمونې او مسلکي اسناد د ۲۰۱۰ کال د مارچ د میاشتې تر **۲۵** نېټې پورې په دغو E-Mail یا برېښنالیکونو راولیږي!

هغه لیکوالي او لیکوالان، چې زموږ له خوا ومنل سي، د مارچ تر پایه پوري به ورته خبر ورکړل سي.

د اړیکې پته:

Ibe-afg@dw-world.de
afghanistan@dw-world.de
www.dw-world.de/pashto
Tel.: ۰۰۴۹ ۲۲۸ ۴۲۹ ۴۸۴۲

ستاسو له لیوالتیا څخه ډیره مننه

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

بشري حقونه بشرپال تر پښو لاندې کوي

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د بشر د حقوقو په اړه په دې وروستیو کې یو هر اړخیز کلنی رپوټ خپور کړی، په راپور کې د افغانستان د تېر کال پر امنیتي وضعیت اند پښښه ښودل شوي، چې په تاوتریخوالي کې تر ډېره ملکیانو ته زیان رسېدلی دی.

همدا شان د امریکا متحدو ایالتونو هم ورمه ورځ پر دې خبره اعتراف وکړ، چې د بشر حقونه په هغو هېوادونو کې تر پښو لاندې شوي، چې امریکایي پوځیان په کې د ترورېزم پر وړاندې پر جګړه بوخت دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هېلري کلنټن هم دا ویلي، چې دغه راپور امریکا ته دا معلومات ورکوي، چې د دغو هېوادونو اقتصادي، سیاسي او ډیپلوماتیکي پالیسي وڅېړي او هغو ته په پاملرنې سره دا معلومه کړي، چې امریکا ته څه کول په کار دي.

دا خو د روان کال رپوټ دی، چې پر امنیتي وضعیت په کې اند ښبنه ښوول شوې ده، خو دا معلومه نه ده، چې راتلونکی کال به څه کېږي. اوس چې په افغانستان کې حالت تر پخوا خراب شوی، نو دا اند ښبنه هم ورسره راپورته کېدای شي، چې ښایي له بشري حقونو څخه د سرغړونې کچه د تېر کال په پرتله په را روان کال کې نوره هم زیاته شي. ځکه په هغه هېواد کې چې جګړه روانه وي او ورځ په ورځ په کې جګړه نوی رنګ غوره کوي، نو ارو مرو په کې د بشري حقونو د تلف کېدو وېره راپورته کېږي. خو تر ګردو مهمه خبره داده، چې بشري حقونه په افغانستان لکه څنګه چې لاړمه ده، هغسې نه مراعاتېږي. افغانستان داسې یو هېواد دی، چې له هره اړخه په کې بشري حقونه تلف کېږي او اصلاً بشر او بشري حقونو ته ارزښت نه ورکول کېږي.

مور وینو چې په افغانستان کې نه یوازې په تېرو درو لسیزو کې په پراخه کچه بشري حقونه تر پښو لاندې شوي، بلکې دا لړۍ اوس هم ښه په درز کې روانه ده. د انساني ژوند په هر اړخ کې نن ورځ د بشري حقونو حالت مخ پر خرابېدو دی او تر ټولو مهمه خو لا داده، چې له بشري حقونو څخه تر ډېره هغه څوک سرغړونه کوي، چې پخپله له بشري حقونو نه د دفاع لاڅې وهي او یا په بله وینا ځانونه بشرپال بولي. پر یادو اړخونو سربېره جګړه هم هغه اړخ دی، چې تر ډېره په کې بشري حقونه تر پښو لاندې کېږي. افغانستان ته د بهرنیو پوځو له راتګ سره سم که له یوې خوا لکه څنګه چې ویل کېدل، هغسې سوله رانه غله، له بلې خوا ورسره د دوی په اصطلاح د ترورېزم ضد جګړې کې د بهرنیو پوځیانو خپلسرو بمبارونو او عملیاتو د بشري حقونو د سرغړونې کچه نوره هم لوړه کړه او آن تر ډېره بریده ځینې بهرني پوځیان په لوی لاس بشري جنایتونه ترسره کوي. په پای کې باید په لنډه توګه وویل شي، چې افغانستان داسې یو هېواد دی، چې په هره برخه کې د بېلابېلو لوریو له خوا په کې بشري جنایتونه ترسره شوي او لاهم ترسره کېږي او تر اوسه پورې داسې یوه محکمه هم نه ده جوړه شوې، چې په عادلانه توګه په کې بشري جنایتکاران محاکمه شي او نه داسې یوه اداره شته، چې دا ډول جنایتونه ارزیابي او وڅېړي، نو په دې توګه افغان دولت ته لاړمه ده، چې د ملګرو ملتونو او نورو بشري حقونو ادارو سره په سلا او د هغوی په ګډون یوه بې پرې واکمنه اداره او یوه محاکمه جوړه کړي، څو په افغانستان کې د بشري جنایتو پر وړاندې له یوې خوا مبارزه وکړي او له بلې خوا د داسې جنایتو د پېښېدو په صورت کې جنایتکاران په سمه او عادلانه توګه محاکمه کړي او افغانستان له دغه لوی مصیبت نه وژغوري.

په نړۍ کې د پیشو قاتل جزا وینې، خو زمور د ولس قاتلین سرې سترګې ګرځي

میاګل اروال

په تېرو ورځو کې یو خبر خپور شو، چې په سینګاپور کې یوه سړي کورنۍ پیشو ووژله او د ګاونډي کور مېرمنې د دغې پېښې په هکله امنیتي مراجعو ته اطلاع ورکړه او پر قاتل یې شاهدي ورکړه، چې په نتیجه کې قاتل پر شپږو میاشتو بند محکوم کړای شو.

د دې خبر په اورېدو زه هک پک شوم او دا سوال راته پیدا شو چې په نړۍ کې څه حال دی او مور افغانان څه کوو؟ په نړۍ کې د کورنیو او غیر اهلي حیواناتو ژوند ته څومره پاملرنه کېږي او مور د خپل مسلمان ورونو وینې تویوو، وژنو یې، دغه جنایات د سیاسي اغراضو، اهدافو او قدرت نیولو یا ساتلو لپاره تر سره کوو. دغه ټول عملونه د هېواد اساسي قانون هم یادکړي، چې په ۲۳ ماده کې وایي: ژوند یو الهي او د انسان طبعي حق دی. په ۲۴مواده او دوئم بند کې ویل شوي چې: ازادي او د انسان کرامت له تېري مصئون دی، چې دولت یې پر ساتنې مکلف دی.

زه نه پوهېرم چې دغو اعمالو او جنایتونو مرتکبان په کوم دین او عقیده دي، دوی په کوم دیني او انساني دلیل سره له انسانانو او هغه هم بیا له افغان مسلمانانو څخه د ژوند مشروع او خدای ورکړی حق د قدرت د واک ساتلو او یا نیولو لپاره اخلي، په داسې حال کې چې الله پاک په خپل سپېڅلي کتاب قرآن عظیم الشان کې د یومومن د قصدي قتل جزا د دوزخ اور ټاکلی دی.

نه پوهېرم چې تر دې به بله ستره جزا چېرې وي، دا ځکه چې دا خو هرو مرو ورکول کېږي او هېڅ قاتل به ترېنه په هېڅ توګه ونه شي ژغورلای. دا هغه عمل دی چې الله پاک یې په خپله ناظر او شاهد دی. که څوک مسلمان وي، هغه هېڅکله هم دغو جنایاتو او قتلونو لاس نه اچوي، ښه مسلمان د خدای په حساب او کتاب ایمان او باور لري.

دا چې ولې زمور په مېنه او هېواد کې مسلمانان او غیر مسلمانان د افغانانو پر قتل او قتال بوخت دي او تر دې هم بده لا دا چې پر خپلو جرمونو او خیانتونو ویاړ هم کوي، دا یې لابله سپکه ده چې دې غیور او مسلمان ملت ته یې کوي. دغه قاتلین خو داسې ښکاري چې د اسلام د مبین دین احکاموته غاړه نه ږدي، د دې ترڅنګ هېڅ راز بشري او انساني موازین هم نه مني. دوی به د الله په وړاندې څه ځواب ولري او نورو انسانانو ته به په کومو سترګو وګوري او په کومه ژبه به د خپلو دغو ننګینو اعمالو بیان و کړي.

که مور همدغه د پیسو قاتل ته جزا ورکول په پام کې ونیسو او وګورو، چې هره ورځ د خاینو او جنایتکارو انسانانو په لاس د څومره بېګناه ملکي افغانانو وینې تویېږي، هغه هم د یو غیر مشروع سیاست له امله، که څه هم حاکمیت یو دیني امانت دی او امانت د یو چا له خوا چاته سپارل دي. دا چې دوی په غیر مشروع ډول د حاکمیت د ترلاسه کولو او ساتلو لپاره پر جنګي جنایاتو اخته دي او داسې څرګندوي چې ګواکي مور پر یو ډېر اسلامي او انساني عمل بوخت یو، نو دا هغه عذر دی چې تر ګناه ډېر بد تر دی.

د یو شمېر اطلاعاتو او څېړنو له مخې له هغې ورځې نه چې په افغانستان کې د طالبانو رژیم رنګ شوی، تر اوسه نژدې ۶۰۰۰۰ تنه بېګناه ملکي وګړي د جګړه مارو د جګړو له امله داسې وژل شوي، چې د هېڅ جرم ثبوت پرې نه شي کېدلای. د اند پښنې وړ خبره لا دا ده چې ولې جګړه ماران پردغو بېګناه وګړو زړه نه خوږوي. آیا دا د دوی مخلوق دی، که د الله مخلوق. یو ځل بیا ټینګار کوو چې د غه جګړه ماران په دغه راز کړنو سره څه غواړي؟

له دې معلومېږي چې دوی فقط د ساریزم پر ناروغۍ اخته دي او د انسانانو له ځورنې او کړونې خوند اخلي. خوند اخیستل هم حد لري، که دوی دغه ناروا او ظلم له همدغه املـه تر سره کوي، دا به د کومې عقیدې او ایډیالوژۍ خاوندان وي، چې دغه راز تېري یې خپله دنده ګرځولې وي. دغه مشهور جرمونه نورو شاهدانو او عیني کتونکو ته ارتیانه لري. د وطن کاڼي او بوټي، دښتې، غرونه او څنګلونه هره ګړۍ د دغو جنایاتو شاهدان دي او د حال په ژبه له دغو ظالمانو او تېري کوونکو څخه کرکه څرګندوي.

مور هم دې نتیجې ته رسېدلي یو، چې د غه بې سرحده جنایتکاران د ساریزم مرض پر سر اخیستي، دوی ته هېڅ راز الهي، بشري او انساني ارزښتونه ارزښت نه لري. دوی خو چې هرڅه کوي هغه د دوی د عقیدې او ایډیالوژۍ څرګندونه کوي. ولې هغه ټولنې چې د بشر او انسانیت په نامه سوداګري کوي او له همدغه املـه ځانونه اند ښبنمن ګڼي، د دغو جنایتکارو جګړه ماران پر تورو عملونو پټه خوله پاتې دي؟

که چېرې دوی د ظالم د ظلم پر وړاندې پټې سترګې او چوپه خوله پاتې وي، دا به پر دغو تېریو باندې د دوی د رضایت مانا ونه لري؟ دا به په دغو جرمونو کې د دوی د ګډون برخه والی نه وي؟ ولې نړیوالې مېډیا او په افغانستان کې د خپلسرو مېډیاګانو با خبري رسنیو شبکې وګړو ته د دغه ظلم او جنایتونو تور عملونه نه په ډاګه کوي؟ ولې د دغو ناروا کړنو عوامل نه څېړي او خپله کرکه تر ې نه ښکاره کوي.

ما دغه د پیشو د قاتل جزا د مثال په توګه راواخیسته، چې نړیوال په خپلو هېوادونو او ټولنو کې د غه راز ارزښتونو ته پاملرنه کوي، خو زما په خاوره کې د زرګونو جنایتونو پر ترسره کولو سترګې پټوي او خپلو هېوادونو ته فقط د عبرت په توګه هغه څرګندوي، دا دمنلو وړ خبره نه ده چې دوی دې یوازې زمور د جګړه مارو کړه وړه خپلو ټولنو ته د بلا او ببو عملونه وبولي او دلته دې د دغو اعمالو جنایت کوونکو ته پیسې او وسلې ورکړي. مور په ډاګه دغه راز شبکوته څرګندوو چې تاسې له مور لاس واخلئ او مور پر بردئ چې خپل ژوند خپله جوړ کړو خپل رژیم په خپله وټاکو. ستاسې له سوغاتي نظامونو څخه نو به شه، ستاسې له ډالۍ شوې ډېموکراسۍ څخه تېر یو، تېر یو او تېر یو

از بازی بزرگ تا معاملهٔ...

شرکت چینی در مناقصهٔ بین المللی معدن مس "عینک" که بزرگترین پروژهٔ اقتصادی تاریخ افغانستان است، لطف امریکا به دولت چین برای جلب همکاری است اما به نظر می رسد که امریکا تا کنون نتوانسته است، نظر چین را مانند روسیه جلب کند. حدود یک سال از درخواست مقام های امریکایی از دولت چین برای احداث یک راه آهن از خاک چین به ولایت بدخشان افغانستان از طریق گذرگاه "واخان" می گذرد، اما چین به این درخواست امریکا که گویا در سفر بارک اوباما به چین مطرح شده است، پاسخ مثبت نداده است، بلکه "لی کوین گونگ" معاون مرکز مطالعات سیاست های امنیت ملی چین، در روزنامهٔ "چاینا دیلی" جنگ افغانستان را منبع دایمی خشونت عنوان کرده است و به ناتو پیشنهاد کرده است که با خروج از افغانستان جای خود را به نیروهای حافظ صلح بین المللی بدهد.

گروه تماس:

بارنت روبین به منظور حل بحران افغانستان، پیشنهاد ایجاد یک گروه تماس را می دهد که متشکل از نماینده گان پنج عضو دایم شورای امنیت و نماینده گان دیگری از ناتو و غربستان باشند. نویسنده گان معتقد اند که گروه تماس باید برگزاری گفتگو بین هند و پاکستان را هدایت کند، مسکو را وارد موضوع برقراری امنیت در منطقه کند، به تهران اطمینان خاطر دهد که تعهدات ناتو و امریکا در افغانستان تهدیدی علیه تهران نخواهد بود و این اطمینان خاطر را به چین نیز بدهد.

به نوشتهٔ این مقاله، گروه تماس می تواند، به ایران اطمینان دهد که قلمرو افغانستان به عنوان محلی برای تضعیف نظام ایران استفاده نخواهد شد و هیچ فعالیت امریکا در افغانستان، بر علیه ایران نخواهد بود. تا کنون چنین گروه تماسی تشکیل نشده است، اما نماینده گان ویژهٔ امریکا، بریتانیا، فرانسه، آلمان و جاپان در امور افغانستان و پاکستان، در سال گذشته از سوی این کشورها انتخاب شدند و این نماینده گان تمامی امور مربوط به افغانستان را به پیش می برند.

چگونگی استراتیژی اوباما:

اگرچه بسیاری از نظریات روبین در استراتیژی اوباما گنجانده شده است، اما با این وجود، رفتارهای برخی مسوولان امریکایی مستقر در افغانستان در تضاد با استراتیژی اوباما قرار دارد. به عنوان مثال، مخالفت "آیکن بری" سفیر امریکا با فرستادن نیروهای بیشتر به افغانستان از جمله تضادهایی است که نشان از ناهماهنگی رفتارها یا ناپختگی این استراتیژی دارد.

د افغانستان، پاکستان او عراق بشري وضعیت ناوړه بلل شوی



د امریکا متحدو ایالتونو وړمه ورځ وویل، چې د بشر حقوق په هغو هېوادونو کې تر پښو لاندې شوي، چې امریکایي پوځیان په کې د تروریزم پر وړاندې پر جګړه بوخت دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې ویلي، دغه راپور امریکا ته دا معلومات ورکوي، چې د دغو هېوادونو اقتصادي، سیاسي او ډیپلوماتیکي پالیسي وځېړي او هغو ته په پام سره معلومه کړي، چې امریکا ته څه کول په کار دي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د بشر حقوقو په اړه په خپل خپاره شوي کلني راپور کې د افغانستان د تېر کال پر امنیتي وضعیت اند ښبنه ښوولې، چې په تاوتریخوالي کې تر ډېره ملکیانو ته زیان رسېدلی دی.

په راپور کې سخت دریځي وسلوال تورن شوي او ویل شوي د افغانستان یو پر درېیمې برخې ته وسلواله جګړه وغځېده، دلته یې حکومتي توان کمزورى کړ، چې په دې توګه د ملکیانو ساتنه او د دولت کنټرول کمزورى شو.

په عراق کې څه څه هم امریکایي پوځیان په وتلو دي، بیا هم په ۲۰۰۹ م کال کې حکومت تورن شوی، چې د راپورونو پر اساس خپلسري قتلونه یې کړي. په راپور کې راغلي چې په عراق کې سره له دې چې عمومي وضعیت څه پرمختګ کړى، بیا هم د بشر له حقونو څخه سرغړونې شوې دي.

په دې راپور کې د نړۍ د ۱۹۴ هېوادونو وضعیت څېړل شوی، چې په اسیا، منځني ختیځ، افریقا او اروپا کې شوې سرغړونې په کې را اخیستل شوې دي.

ځینو هېوادونو دغه راپور له پامه غورځولی، دغو هېوادونو ویلي دي، امریکا باید د بشر له حقوقو خپلو سرغړونو ته پام وکړي، چې هغه د ولسمشر بارک اوباما له خوا د ګوانتنامو د زندان ترڅو د ژمنې نه عملي کېدل، د پاکستان او افغانستان په سرحدي سیمو کې د توغندیو بریدونه او په امریکا کې د مرګ د سزا دوام دی.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن په دې اړه وویل، دې راپور امریکا ته د سیمې په اړه یوه ارزونه مخې ته کېښوده، د هغې سیمې لپاره چې امریکا په کې د بشر د حقوقو په برخه کې یو بدلون غواړي: "دغه راپورونه چې خپاره شوي یو ریکارډ دی، چې ښیي مونږ په کومه مرحله کې یو او یو حقیقت زمونږ مخې ته ږدي، چې په روان کال کې د نورو هېوادونو له ډیپلوماتیکي، اقتصادي او ستراتیژیکي پالیسي مونږ ته معلومات راکوي. د دې راپور هدف دا نه دی چې دغو هېوادونو ته دا ډول کومه پالیسي جوړه کړي، بلکې د امریکا خلکو ته په دې اړه مهم معلومات ورکوي"

په راپور کې ویل شوي، چې د وسلوالو سخت دریځو بریدونه تېر کال زیات شول، چې تر ډېره یې ملکیان زیانمن کړل، که څه هم امریکایي قوماندانانو ته امر شوی، چې باید محتاط واوسي، بیا هم ملکي تلفات زیات وو او دې کار بې صبري او له دغو پوځیانو خوابدي زیاته کړې، چې د اتو کلونو لــه تېرېــدو وروســته هــم پــه افغانــستان کــې امن نه دی ټینګ شوی.

په راپور کې د ملکي افغانانو یادونه شوې، چې تېر کال په شدید تاوتریخوالي کې ډېر ځپل شوي او افغان حکومت نه دی توانېدلی، د همدغو جګړو له کبله په لرې پرتو سیمو کې خلکو ته امن برابر کړي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په راپور کې د عراق او چین په اړه تر تفصیلي څرګندونو وروسته د پاکستان یادونه شوې، چې تېر کال د ملکي حکومت له ځینو پرمختګونو سره- سره د زیاتو خلکو د وژل کېدو، ځوروني او بې درکه کېدو راپورونه ترې ورکړل شوي دي.

په راپور کې همداراز ویل شوي، چې په پاکستان کې په سلګونو ملکیان د وسله والو سخت دریځو له لورې په بریدونو کې وژل شوي، دغه راز د رسنیو پر وړاندې هم له تاوتریخوالي استفاده شوې ده، اکثره خبریالان نیول شوي او یا هم سانسور وربانديِ وضعه شوی دی.

په راپور کې د چین په اړه ویل شوي، چې د بشر حقوقو وضعیت په کې خراب دی، په خاص ډول د اقلیتونو، ولسپاله حقوقپوهانو او هغو خلکو پر وړاندې ستونزې موجودې وې، چې د حکومت مخالفت یې کاوه.

د ازادي راډیو د رپوټ له مخې، په دغه رپوټ کې د چین د حکومت له خوا د اویغور او تبتیانو ځپلو ته هم اشاره شوې، چې ځینې کسان یې په اوږده بند محکوم شوي، دغه راز په چین کې تر حد د زیاتو اعدامولو، د شکنجې، خپلسرو نیونو او د مرګ د سزا یادونه هم شوې ده.

په ځانمرګو بریدونو کې...

نورو سیمو د بریدونو په شان کم اهمیته نه دي، ځکه دا بریدونه چې په یوه اونۍ کې دویمه ورته پېښه ده، د پاکستان چارواکو ته لوی تکان ګڼل کېږي.

د تاند وېښې د رپوټ له مخې، د پاکستان پوځ وایي چې په دې بریدونو کې د دوی لږ تر لږه پنځه پوځیان وژل شوي دي.

په همدې اونۍ کې په لاهور کې د پاکستان د فدرالي تحقیقاتي اداري یا اېف بي آی پر دفتر هم ځانمرګی برید شوی و، چې په ترڅ کې یې شپږ تنه وژل شوي وو.

په خوست کې د یوه دیني...

ودانۍ لري، چې هره یوه یې دوه پوړیزه ده او د دې ترڅنګ جومات او خورنځی هم ورته جوړ شوي دي.

د خوست سرپرست والي ظاهرخان صبري وویل، چې اوسمهال په دې دارالعلوم کې دوه سوه طالبان زده کړې کوي.

نومورې زیاته کړه اوس چې دلته د دارالعلوم لپاره داسې عصري وداني جوړه شوه، چې لیلیه هم لري، نو د خوست نه، بلکې د ګاونډیو ولایتونو طالب العلمان به هم په کې د زدکړو چانس ولري او دوی به نور ارنه وي. چې په زړه کړو پسې ګاونډیو ولایتونو ته لاړ شي

روهي وېښې رپوټ ورکړې، چې دغه دارالعلوم به خپلې تدریسي چارې د پوهنې وزارت په چوکاټ کې سرمخ وړي او دا مهال په کې سلو پنځوس کسان لیلیه شوي هم دي او د دې جګ په خوست کې په لسګونو نورې داسې دیني مدرسې شته چې له پوهنې ریاست سره نه دي ګډلي او په آزاد ډول دیني عالمان په کې د خپلې خلکو په مرسه زرګونو طالب العلمان روزنه کړې ورکوي.

اجازه نمی‌دهیم تا از افغانستان...

مطبوعاتی ریاست جمهوری در کابل منتشر گردیده، رییس جمهورافغانستان افزوده است: "هند نقش مهمی در بازسازی و توسعه افغانستان بازی می کند. این کشور دوست و همکار صمیمی افغانستان است و پاکستان کشور برادر افغانستان."

آقای کرزی علاوه نموده: "همان گونه که بارها گفته ام، افغانستان و پاکستان مانند دوگانگی هایی هستند که از هم جدا شدنی نیستند. ما معتقدیم و کاملا آگاهی داریم که بدون همکاری پاکستان صلح و ثبات در افغانستان تامین نخواهد شد."

در چند سال اخیر هند در چند طرح زیربنایی، از جمله راهسازی، تامین انرژی برق و حمل و نقل در افغانستان نقش عمده یی داشته است.

یکی از این طرح ها ساخت شاهراه زرنج - دلارام، در جنوب غرب افغانستان بوده است که این کشور را از طریق ایران به خلیج فارس وصل می کند. این شاهراه که با حمایت مالی هند ساخته شد، تلفات شمار قابل توجهی از مهندسان و کارگران هندی را در پی داشت.

آقای کرزی در نشست مشترک خبری با محمود احمدی نژاد هم گفته بود که کشورش علیه کشورهای دیگر مورد استفاده قرار نخواهد گرفت

همچنین در این نشست خبری در اسلامی آباد، آقای کرزی حملات هواپیماهای بی سرنشین امریکایی از خاک افغانستان به پاکستان را رد کرد. رییس جمهور افغانستان گفت: "این مساله به افغانستان ارتباطی ندارد و موضوعی است میان امریکا و پاکستان."

یوسف رضا گیلانی، نخست وزیر پاکستان در این نشست بر مصالحه با طالبان تاکید کرد و گفت: "روند مصالحه و ادغام مجدد (طالبان) می تواند ما را به آینده روشن امیدوار کند و ما آماده ایم در این روند با افغانستان همکاری کنیم."

اخیرا شماری از رهبران طالبان افغان در پاکستان بازداشت شده اند و دولت افغانستان تاکید کرده است که آنان باید به این کشور تحویل داده شوند.

هر چند پیش از این دولت پاکستان به درخواست های قبلی مقام های افغانستان در این مورد پاسخ مثبت نداده اند، اما هنوز مشخص نیست که این بار دولت پاکستان چه پاسخی به درخواست آقای کرزی خواهد داد؟

در حشرعمومی دیروز...

انجنیر محمد یونس" نو اندیش" شاروال کابل در ریاست سرسبزی، جایی که صد ها عراده واسطهٔ نقلیه آماده اعزام برای پاک کاری سرک های شهر بود گفت، در این حشرعمومی هشت هزار نهال غرس شد و سه هزار پرسونل ریاست تنظیف با سایر کارمندان شاروالی کابل در این حشر شرکت نموده بودند.

شاورالی کابل از شهروندان کابل خواست تا در نگهداشت نهال های تازه غرس شده همکاری کنند.

در کار حشر عمومی دیروز وسایط تنظیفی کابل با انتشار اعلامیه های از طریق لودسپیکر از شهر یان کابل تقاضا می کرد تا در کار حشر عمومی سهم گیرند. مسوولان ریاست تنظیف شاروالی می گویند که روزانه ۳۵۰۰ تن کثافات در این شهر تولید می شود ولی آن ریاست به خاطر نبود امکانات و وسایط نقلیه صرف توان انتقال دو هزار تن آن را دارد.

در این حال آقای " نو اندیش " گفت: شاروالی جهت خریداری یک تعداد وسایل جهت اجراات آن اداره دست به یک سلسله اقدامات زده است.

حاجی فضل احمد یک تن از شهر یان کابل که در ساحه تایمنی مصروف نهال شانی بود در مورد اهمیت حشر و پاک کاری شهر کابل گفت:

« نهال شانی یک کار نیک است و ما خود نیز بعضی نهال ها را خریده ایم و شاروالی نیز چندین دسته نهال کمک کرده است، حشر خوب است همه دست به دست هم می دهیم کار پیش می رود به تنهایی هیچ کس نمی تواند کاری کند.»

شاروالی کابل در حالی حشر عمومی را به مناسبت فرا رسیدن بهار سال جدید به راه انداخته است که شاروالی کابل به تمام تلاش توان تنظیم و پاک کاری شهر چهار میلیونی کابل را ندارد.

کارشناسان معتقد اند هرگاه باشنده گان پایتخت خود شان در تنظیف و پاک کاری شهر شان همکاری نکنند تلاش های شاروالی کابل و سایر نهاد ها جهت بهبود وضعیت نظافت و پاک کاری نتایج ثمر بخش در پی نخواهد داشت.

هند در آستانهٔ ایفای نقش جدید در افغانستان

منبع: روزنامهٔ دیلی‌تایمز – پاکستان ترجمه: نیلوفر احمدی محصل فاکولتهٔ ژورنالیزم کابل

دولت هند در پی گشایش راه هایی برای ارتباط با طالبان افغانستان است، تا در آستانهٔ خروج نیروهای ناتو از این کشور و بد شدن شرایط امنیتی، نقش مهمی در سیاست افغانستان ایفا کرده و به حضورش در این کشور ادامه دهد.

با اشاره به انتشار گزارش هایی در مورد رقابت شدید دو کشور همسایه و اتومی هند و پاکستان برای نفوذ به سیاست افغانستان باید گفت که دولت دهلی‌نو در صدد ایجاد کانال هایی برای ارتباط با گروه طالبان افغانستان است، تا همزمان با خروج نیروهای نظامی امریکا و دیگر کشورهای عضو ناتو از این کشور جنگزده و رو به زوال گذاشتن شرایط امنیتی در آن، به سرعت وارد افغانستان شود و حضور پررنگی در این کشور ایفا کند.

گزارش های منتشر شده در رسانه‌های خبری هند حاکی از آن است که در اجلاس اخیر شورای امنیت ملی هند که به ریاست "منموهن سینگ " صدراعظم این کشور برگزار شد، تصامیمی گرفته شد، مبنی بر اینکه باید با مقام های طالبان رابطه برقرار کرد و کانال های ارتباطی مستقیمی نیز، با اردوی پاکستان و سازمان استخبارات و جاسوسی این کشور ایجاد نمود، تا امنیت شهروندان و منافع هند در کابل تضمین گردد.

برېتانوي پوځیان موسی کلا امریکایي پوځیانو ته سپاري

له لندنه د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، د برېتانیا حکومت د کب پر ۲۰ نېټه د دې موضوع د اعلانولو په ترڅ کې وویل، چې دا اقدام د هلمند په جنوبي ولایت کې د قواوو د انډولولو لپاره لومړنی ګام دی، څو یقیني شي چې د ناټو ځواکونه د ملکیانو په ساتنه او د طالبانو پر وړاندې په جګړه کې پوره اغېزمن دي.

هلمند چې د مساحت له پلوه د افغانستان ترټولو لوی ولایت دی او اوولس لکه نفوس لري. د افغانستان ترټولو نارام ولایت بلل کېږي. په موسی کلا ولسوالۍ کې پنځه سوه برېتانوي سرتېري ځای پرځای دي. دا پوځیان به په راتلونکو اونیو کې د هلمند مرکزي برخو ته، چې لا ګڼ نفوسي سیمې دي، ولېږدول شي.

د برېتانیا حکومت وایي، چې له دې سره به په مجموع کې په افغانستان کې د برېتانوي ځواکونو په شمېر او وضعیت کې کوم بدلون رانه شي. حاضرمه په هلمند کې شاوخوا لس زره برېتانوي پوځیان مېشت دي.

له ۲۰۰۶ ع کال راوروسته چې برېتانوي ځواکونه موسی کلا ته استول شوي، په دې ولسوالی کې درویشت برېتانوي پوځیان وژل شوي موسی کلا ولسوالي د افغان او برېتانوي ځواکونو له لوري تېر کال په یو لړ پراخو عملیاتو کې وروسته له هغه د دولت ترکنټرول لاندې راغله، چې د طالبانو یو مهم قوماندان ملا عبدالسلام له حکومت سره ملګری شو. د تاند وېښې د رپوټ له مخې، نړیوالو د موسی کلا خلکو ته د بیا رغونې او د دې ولسوالۍ د ګل و ګلزار کولو ډېرې وعدې ورکړې وې، خو عملاً یې تقریباً هېڅ کار ونه کړ او له همدې امله طالبان د دې ولسوالۍ د مرکز پر شاوخوا کلیو بېرته مسلط شول.

از بـــازی بزرگ تا مـعاملهٔ بـزرگ

در این اواخر، خبر دستگیری چندین عضو برجستهٔ طالبان از جمله "ملا برادر " معاون رهبر طالبان و عملیات های گسترده ناتو در "مارجه " و به تازه گی خبر عملیات "قندهار " تغییرات مهمی در صحنهٔ افغانستان، محسوب می شود.

از طرفی طرح مصالحه با طالبان که این روزها از خط خبری خارج شده است، از دیگر رویدادهایی است که در چند ماه گذشته، بخش وسیعی از خبرها را به خود اختصاص داده بود.

پس از تدوین استراتیژی بارک اوباما در اواخر سال ۲۰۰۹ میلادی و تصویب فرستادن ۳۰ هزار قوای دیگر به افغانستان، امریکا مسیر تازه یی را در صحنهٔ افغانستان در پیش گرفته است.

دیوید پترائوس قوماندان نیروهای امریکایی در شرق میانه و آسیای مرکزی اعلام کرده است که امریکا در طول یک سال گذشته، مشغول آماده گی برای نبرد با طالبان بوده است. وی همچنین عملیات مشترک را مرحلهٔ مقدماتی عملیاتی خواند که قرار است، بین ۱۲ تا ۱۸ ماه به طول انجامد.

تعاملات امریکا با کشورهای اطراف افغانستان به خصوص پاکستان نیز، در طول سال گذشته دچار تغییرات اساسی بوده است.

هیچ کس به درستی نمی داند که این تحولات به کدام سوی در حرکت است و منازعهٔ افغانستان با حضور ۱۲۰ هزار سرباز جامعهٔ جهانی، چه زمانی به فرجام خواهد رسید.

"بارنت روبین طراح معاملهٔ بزرگ:

به نظر می رسد، مجموعهٔ عوامل فوق، حرکت به سوی مسیری است که پروفیسر "بارنت روبین " رییس مرکز مطالعات و عضو ارشد مرکز همکاری‌های بین‌المللی پوهنتون نیویارک و "احمد رشید " تحلیلگر پاکستانی در مقاله یی به نام "از بازی بزرگ تا معاملهٔ بزرگ " در سال ۲۰۰۸ و پیش از انتخابات ریاست جمهوری امریکا، به اوباما توصیه کرده بودند.

بارنت روبین که یکی از طراحان کنفرانس "بن " بود، اکنون نیز نقش بارزی در سیاست های امریکا در صحنهٔ افغانستان، بازی می کند.

دفتر مطبوعاتی ریاست جمهوری افغانستان، در یکی از اطلاعیه های ماه دلو ۸۸، از همراهی بارنت روبین با "ریچارد هولبروک " در ملاقات با حامد کرزی خبر داده بود.

همراهی بارنت روبین با فرستادهٔ ویژهٔ اوباما در امور افغانستان و پاکستان را شاید بتوان این گونه تعبیر کرد که نظریهٔ وی در امور افغانستان، به مرحلهٔ اجراء رسیده است.

بارنت روبین معتقد است که تلفات این بازی بسیار زیاد شده است و به رییس جمهور جدید امریکا توصیه کرده، تا این بازی بزرگ را به معاملهٔ بزرگ تبدیل کند.

در ادامهٔ برخی توصیه های بارنت روبین به بارک اوباما و چگونگی تحقق این توصیه ها بررسی می شود. مصالحه با طالبان

رکن اول موفقیت:

توصیه های بارنت روبین و احمد رشید به رییس جمهور جدید امریکا برای پایان بحران افغانستان، دارای ۲ رکن بود که رکن اول آن جستجوی یک راه حل سیاسی برای پیوستن طالبان به جریان سیاسی و دولت افغانستان بود.

تحقق این توصیه بسیار مشکل به نظر می رسد؛ زیرا طالبان شرط خروج نیروهای امریکایی از افغانستان را همواره به عنوان پیش شرط مذاکرات بیان کرده اند؛ در حالی که پذیرش این شرط، برای امریکا هرگز قابل قبول نخواهد بود.

کنفرانس " لندن " که در ابتدای سال میلادی جاری برگزار شد و یک روز پیش از آن، نام پنج نفر از اعضای طالبان از لیست سیاه سازمان ملل حذف شد، نخستین گام علنی در این راه به شمار می رود.

قرار است، مصالحه با طالبان در اوایل بهار با برگزاری "لویه جرگه " و سپس کنفرانس بین المللی کابل دنبال شود.

در طول ۲ ماه گذشته، هفت تن از اعضای "شورای کویته " شامل "ملا عبدالغنی برادر " معاون رهبر طالبان، "مولوی عبدالکبیر " قوماندان عملیاتی ولایت های شرقی افغانستان، "ملا عبدالسلام " و "ملا میرمحمد " والیان تعیین شده از سوی طالبان در ولایت های "کندز " و "بغلان" «!» "مولوی یونس آخوندزاده " والی طالبان در "زابل "! "سید طیب آغا " سخنگوی پیشین رهبر طالبان و "معتصم آغا جان " داماد "ملا محمد عمر " و مسوول سیاسی گروه طالبان، توسط سازمان استخبارات پاکستان دستگیر شده اند. خبرهای ضد و نقیضی نیز در مورد دست داشتن نیروهای سازمان "سیا " در این دستگیری ها وجود دارد. دستگیری هفت عضو برجستهٔ طالبان را می توان فشار امریکا بر طالبان به منظور نشاندن آنها دور میز مذاکره تلقی کرد.

تاکید بر نقش پاکستان در حل بحران افغانستان:

نقش پاکستان در این معاملهٔ بزرگ در رکن دوم تیوری بارنت روبین بیان شده است.

احمد رشید، تحلیلگر برجستهٔ پاکستانی که در نوشتن این مقاله نقش داشته است، تلاش کرده است، تا در این معامله، بیشترین امتیاز نصیب پاکستان شود.

کمک مالی بیشتر به پاکستان یکی از توصیه های نویسنده گان مقاله به رییس جمهور امریکا است. شاید طرح "کری- لوگر " که بر اساس آن، دولت امریکا بیش از هفت میلیارد دالر را طی پنج سال به دولت پاکستان می دهد، در راستای تحقق معاملهٔ بزرگ باشد.

از دیگر موارد موفقیت معاملهٔ بزرگ، تجهیز اردوی پاکستان بیان شده است، افزایش قابل توجه کمک های نظامی امریکا به پاکستان که بر اساس منابع غیررسمی سالانه به ۳۰۰ میلیون دالر افزایش یافته، فروش بم های لیزری "۸۲ -MK " که قدرت نفوذ در عمق ۵۰۰ متری زمین را دارند و فروش ۱۸ فروند طیارهٔ F-۱۶ را می توان عمل به توصیه های رشید و روبین ذکر کرد.

ارتش افغانستان مفید، اما پرخرج:"

روبین در توصیهٔ خود به اوباما در مورد اردو و پولیس افغانستان، ضمن توصیه به گسترش و حمایت مالی اردوی این کشور معتقد است که مخارج اردو و پولیس افغانستان، سالانه ۳ میلیارد و پنجصد میلیون دالر خواهد بود و تامین چنین مصارف برای افغانستان، حتا اگر رشد اقتصاد آن به ۱۲ درصد برسد، غیرممکن است.

وی از طرفی منبع تصمیم گیرنده در مورد نحوهٔ مصرف این کمک ها را کنگرهٔ امریکا دانسته است، نه پارلمان افغانستان و افزوده است که ممکن است، نیروهای امنیتی افغانستان دست به اقداماتی بزنند که مالیات دهنده گان خارجی را نسبت به پرداخت مصارف بی میل کند.

حضور نظامی درازمدت و تاکید بر نقش همسایه گان:

در این مقاله، تامین امنیت افغانستان مستلزم سال ها حضور نظامی امریکا در افغانستان ذکر شده است.

نویسنده به رییس جمهور امریکا گوش زد می کند که هیچ یک از کشورهای اطراف افغانستان، موافق حضور طولانی مدت امریکا در افغانستان نیست. به نظر وی، چین، روسیه، هند، ایران و حتا پاکستان موافق این حضور نیستند.

وی جستجوی یک ابتکار عمل سیاسی را پیشنهاد می کند که توافق کشورهای منطقه را در بر داشته باشد.

تلاش امریکا برای اقناع روسیه که حضور امریکا و ناتو در افغاستان تهدیدی علیه این کشور نیست ممکن است، منجر به در اختیار گذاشتن یک کریدور هوایی از فضای روسیه برای ترانزیت هوایی محموله های امریکایی به افغانستان شده باشد. از سوی دیگر، تمدید اجارهٔ پایگاه هوایی "مناس " بدون اجازهٔ روسیه ممکن نبود و دیگر همکاری های کشورهای آسیای میانه که حیاط خلوت روسیه محسوب می شود، از دیگر موارد همکاری روسیه با امریکا محسوب می شود.

چین که به بازار مصرفی افغانستان و ذخایر معدنی آن چشم دوخته است نیز، باید به امریکا چراغ سبزی برای همکاری نشان دهد. برخی کارشناسان معتقد اند که برنده شدن یک ص۲

قابل توجه علاقمندان روزنامهٔ ارادہ

روزنامهٔ ارادہ به اطلاع تمام اداره های دولتی و غیردولتی می رساند که توزیع روزنامهٔ ارادہ بعد از تاریخ اول حمل سال ۱۳۸۹ به طور رایگان صورت نخواهد گرفت؛ اداره ها و مراجعی که علاقمند دریافت روزنامهٔ ارادہ هستند، به دفتر روزنامه مراجعه نموده و وجه اشتراک پولی شان را بپردازند و با اشتراک شان در این روزنامه، در رشد، تقویهٔ و گسترش هر چه بیشتر رسانه های آزاد کشور، سهم خویش را اداء نمایند.

وجه اشتراک روزنامه قرار آتی است:

وجه اشتراک	در داخل کشور	برای موسسات،سفارتخانه هاودفترهای خارجی	برای محصلان و متعلمان
سالانه	۲۰۰۰ افغانی	۳۰۰ دالر امریکایی	۱۰۰۰ افغانی
شش ماهه	۱۰۰۰ افغانی	۱۵۰ دالر امریکایی	۵۰۰ افغانی
سه ماهه	۵۰۰ افغانی	۷۰ دالر امریکایی	۲۵۰ افغانی

اراده ورځپانه یوازې د سرلیکنې ننګه کوې، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیري
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین : نبي "پیاوړی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل: erada.daily@yahoo.com

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mujib Rahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com